مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۳/۱۰/۲۸

# پوهه (علم) څه دی؟

څه موده وړاندې په يوه پرلیکه بحث کې ویوښتل شوم، چې د پوهه (علم) اسانه پېژاند څه دی؟ او که څو ځانګړنې يې يادې شي، چې له نورو بشري ارزښتونو سره يې توپير اسانه وشي.

هلته هم بحث خورا اوږد و مفصل وشو او هم په دې اړه لیکل ډېر شوي دي، په څو کرښو کې يې رانغاړل سمندر په کوزه کې ځایول بویه.

خو غواړم يوې ځانګړنې ته يې دلته تم شم:

«پوهه» نوېکېدونې، بدلېدونې او پرورځکېدونې (Updatable) ده.

علم يا پوهه [ په ګُلي توګه] د يوه روايت کټمټ تکرار نه دی. د پوهې روايت بدليږي، که د پوهې روايت بدل نه شي، پوهه نه ايډيالوګ دی.

بېلګه:

انسانانو پېړۍ پېړۍ فکر و کار وکړ، چې دې پایلې ته ورسېدل: [يو اکسيجن + دوه هايدروجن = اوبه $H_2O$جوړوي.]

خو په کايناتو کې د اوبو د شتون، له اوبو د نورې ګټې اخيستنې د لارو چارو په اړه د پوهې ګُلي پرمختګ، پراختيا او بدلېدونې مزل به لا پېړۍ پېړۍ روان وي، چې خدايزده چېرته به ورسيږي.

د پوهې د نوېکېدا او بيا بيا زيږېدا راز هغې ته د انسان په اړتيا کې نغښتی. بشري فکر غواړي لا ډېرې هوساييني ته ورسيږي، په دې لاره کې هڅه کوي، علمي پرمختګ د همدغې هڅې پايله ده. د علمي پرمختګ بله ځانګړنه دا ده، چې پايلې يې د انسانانو پر ژوند تطبيقيږي، مانا عملي دی.

يو مهال انسانانو غوښتل والوځي، الوتل يې اړتيا وه، هڅه يې وکړه او الوتکه يې جوړه کړه، سفرونه اسانه شول، د ځمکې تنابونه لنډ شول. انسان د خپلو هغو هڅو او تجربو حاصل ته کېناست، چې پېړۍ پېړۍ يې تر سره کړی و.

پوهه په تکاملي انسان کې د تکاملي تفکر په شان تکاملي ده او دا تکامل پای نه لري. که ودرېد، تحجر رامنځته کيږي، بيا به هرڅه وي، خو پوهه ورته ويلای نه شو.

پوهه له مهال سره مزل کوي او پراخيږي. اپلاتون لوی فيلوسوف او پوه و، خو کمپيوټر يې نه پېژاند، بلخي ابن سينا د بشريت په تاريخ کې لوی طبيب و، خو له هغو طبي تجربو څخه خبر نه و، چې نن د خورا پرمختللې برېښنايي تکنولوژۍ په مرسته کيږي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

که موږ پر همدې ټینګار کوو، چې تر بلخي ابن سینا روسته نوری طبي علمي تجربې بېځایه دي، ځکه ابن سینا تر ټولو لوی طبیب و، بیا خو مو د انسان د هوساینې له اصل سره، چې د روغتایي پوهې موخه ده، ظلم کړی.

داسې زمانه به راشي، چې د نن ورځې پیاوړې تکنولوژۍ به ورته همداسې زړه ښکاري، لکه موږ ته چې د ابن سینا زمانه ښکاري. د پوهې نویو درشلونو ته د رسېدو لپاره د انسان پرمختګ مضاعف دی؛ پوهه له پوهې سره جمع کېږي نه، بلکې ضربیږي.

پوهه ولاړه نه پاتیږي، پوهه خپل زوړ روایت نه تکراروي، پوهه خپله پایله همدلته پر همدې ژوند ترلاسه کوي.

هر هغه بشري فکر یا باور چې ولاړ پاتې شي، هرڅه به وي، خو پوهه یې بللای نه شو.


دهغه څه له کبله چې اوس یې د ناپوهۍ له امله کوو او پرې ټینګ و لاړ پاتیږو، سل کاله روسته نسلونو ته به ملامت یو، ځکه موږ په ولاړ پاتېدا ټینګار کوو.

نهپوهېدل ګناه نه ده، خو په ناپوهۍ ودرېدل او په یوه ولاړ روایت کې ورستېدل لویه ګناه ده.

**ويښتیا، روښانتیا اوبدلون**

----------------

لاندې شکل د پورته تفصیل په ځینو څرګندونو د پوهېدو لپاره مرسته کوي:






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ